

Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

۵

د سولې کوچني اتل

خپرونکي : د سنايي پرمختيايي موسسه
مسول مدير : راز محمد دليلي
ليکونکی : احمد فريد عارفي
پښتو ژباړه : غلام حضرت رحيمي
انځورګر : فتانه بکتاش عارفي
کمپوز او ديزاين : سيد نذير حسيني

لومړی طبع : ۱۰۰۰ ټوکه، د سنايي پرمختيايي موسسه (SDO) د ۱۳۸۶ د وري مياشت.
دوهم طبع : ۱۰۰۰ ټوکه، د سنايي پرمختيايي موسسه (SDO) د ۱۳۸۷ د ژمی مياشت.
دريم طبع : ۱۰۰۰ ټوکه، د سنايي پرمختيايي موسسه (SDO) د ۱۳۸۸ د ژمی مياشت.
خلورم طبع : ۲۰۰۰ ټوکه، د سنايي پرمختيايي موسسه (SDO) د ۱۳۸۹ غويا مياشت.

اتم سړک. قلعه فتح الله د سنايي موسسه: په کابل کې پته
تيلفون: ۰۲۰ - ۲۲۰۱۶۹۳
۱۸۱: پوست بکس
بريښنا ليک: sieal@brain.net.pk
انترنيت پانه: www.sanayee.org
اورکزي پلازې شاته، يونيورستي تاون، پېښور پاکستان: په پاکستان کې پته .
تيلفون: ۰۰۹۲ - ۹۱ - ۵۸۴۲۱۵۵ - ۹۱۵۸۲۱۶۵
فکس: + ۹۲ + ۹۱ - ۵۸۴۵۱۳۹

ددې کتاب ټول حقوق د سنايي پرمختيايي
موسسې پورې اړه لري.

ketabton.com - The Digital Library

۵

تصویري کیسه

د سولې کوچنی اتل

سوله

ketabton.com - The Digital Library

د سولې کوچنی اتل

موږ د څلورم ټولګي زده کوونکو په ښوونځي کې ښه نوم او نښان درلود.
زموږ دغه شهرت پخپلو کې د دوستۍ، صمیمیت، ملګرتیا او له یو بل سره د همکارۍ په خاطر وو.
زموږ د رویښت کسیزه ټولګي ځانګړی نظم او ترتیب لرلو ځکه ټول په داسي حالت کې وو چې د یو او بل له خوښي او د نورو دوستانو له خوشحالۍ پرته مو د بل څه په

ketabton.com - The Digital Library



ketabton.com - The Digital Library

ښکله فکر نه کولو.

د ښوونځي د کارونو په سرته رسولو کې مو هم خپله همکاري نه سپموله. خالد او نوید زموږ دوه تنه ټولګې ملګري وو چې ښو اخلاقـــــو، ښې روزنې او ښه لیاقت نمونه وو.

مسـعود هم د هغوي یو نږدې دوسـت و. هغوي ډیر خوا ږه ملګري وو. تل بـــه یې کوښښ کولو چې نورو ته ګټور تمام شي. ورځې او اوونۍ تیرې دې او زموږ ټولـو په زړونو کې د مینې او دوستۍ څپې ورځ په ورځ زیاتیدې. ټول په لوستونو بـوخت وو ځکه څلور نیمه میاشــــتنۍ آزموینه را روانه وه.

ketabton.com - The Digital Library

د یادولو وړ ده چې ډیر زړه ســوانده او
مهربانه ښوونکي مو هم درلودل. هغوي
هم زموږ په ښوونه او روزنه کې زیات
زیار ګالـه. خو لکه څنګه چې د ژوند د
خوشحــالۍ ورځې کمې وي، زموږ د
ټولګي پر فضا بــاندې هم د خوابــدیو
توري وریځې راخورې شــوې او هغه
داسې چې:
یوه ورځ خالد او نوید د همیشني عادت
پر خلاف غیر حـاضر وو. ټول حـیران وو
چې ولې دغو دوو خوږو دوســتانو غیر
حــاضري کړې ده، ځکه هغوي هیڅکله
هم غیر حاضري نه کوله.

ketabton.com - The Digital Library

سبـــا هم په ټولګي کې د هغوي ځايونه
تش وو ، ټول حـــيران وو چې زموږ په دغو
دوستانو څه شوي دي چې نه دي راغلي.
تردې چې په دريمه ورځ خالد يوازې او
ډير خواشـــينی ټولګی ته راغی. په څيره
کې يې هغه پخوانی خوشحـــالي نه وه.
خواشينی او خپه ښکاريده. ټول ورڅخه
راتاو شـــــول، هريو ورڅخه پوښتنې
کولې، چيرته وې خالد جانه! نويد ولې
نه دي راغلی؟ ژرشـه ووايه چې موږ ټول
درپســـې خپه وو. خالد پټه خوله وه او
ځواب نه راکاوه.
په پای کې مو په لوړ غږ او جدي توګه

ketabton.com - The Digital Library

ورځخه وپوښتل: خالد جانه ووايه چې
څه پېښ شوي دي؟
آخر د خالد شونډې بېرته شوې، په
داسې حال کې چې له څېرې ځخه يې
قهر اوريده په رپېدلو شونډو يې وويل:
«د نويد پوښتنه مه کوۍ! افسوس چې
نويد نور هغه پروني نويد نه دی. زما
هيلې او آرزوګانې يې په ايرو بدلې
کړې. ما هغه دوست او ورور باله، خو
اوس هغه يو خود خواه او کلان کاره
بنيادم شوی دی، چې تاسې نه پوهېږۍ
خو زه پوهېږم. ما له خپلو غمونو سره
پرېږدۍ او ولاړ شۍ...»

ketabton.com - The Digital Library

د خالد خبرې لا پای ته نه وې رسیدلې چې لوست پیل شو او د درې ښوونکی صاحب ټولګې ته راغی. زده کوونکي ټول د هغه په احترام ودریدل. کله چې د درې ساعت پای ته ورسید او تفریح شـوه، ټول زده کوونکي د خالد په شاوخوا راټول شول او بیا مو هم غوښتل ورڅخه پوښتنې وکړو خو خالد د اوبـو څښلو په بلمه له مونږ څخه لرې شو.

ټول دوستان په تیره بیا مسعود خواشینی و چې حتماً کومه مهمه پیښه شوې ده چې خالد دومره د نوید په باب یادونه کوي. ځکه هغوي مو څلور کاله داسې نه وو لدلي چې

ketabton.com - The Digital Library

ترمنځ يې کوم کوچنی خپګان هم پيښ
شوی وي.
مور هيڅ يو نه پوهيدلو چې ولې دغه دوه
تنه دوستان له يو بل نه خپه شوي دي چې
ان دوه ورځې له ښوونځي څخه هم غير
حاضر شول. د رخصتۍ په وخت کې هم
خالد بکس او کتابونه تر تخرګ لاندې
کړل. په بيړه ان په منډو سره د کور په لور
روان شول. ټولو د ټولګي ملګرو او مسعود
په حيرانتيا سره دې حالت ته کتل او ټولو
تعجب کاوه او نه پوهيدل چې څه وکړي.
فکر مو وکړ چې د نويد راتلو ته انتظار
وباسو چې په خبره پوه شو او لاره چاره

ketabton.com - The Digital Library

يې ومومو.

تاوده لمر اړ کړو چې د خپلو کورونو په لور روان شو او يو څه دمه وکړو.

سبا کله چې موږ د خپل ټولګي په تنظيم بوخت وو نويد ورو ټولګي ته راننوتلو او په لوړ غږ يې ټولو ته سلام واچاوه، ټولو په خوشحالۍ او غالمغال سره هغه په لاسونو کې پورته کړ او شکر مو وکړ چې بيا ټول سره يو ځای شو.

خو خو شيبې لا نه وې تيرې شوې چې دې چغو خپل ځای سکوت او چوپتيا ته ورکړ او بيا هر يوه پوښتنه کوله چې دا څو ورځې ولې

ketabton.com - The Digital Library

رانه غلي؟ ولي؟ ولي؟ په پاى كې نويد سل زرونه يو كړل او خپله كيسه يې داسې بيل كړه:

درې ورځې مخكې چې د مازديگر له لمانځه وروسته مې وره نان وايى ته وړل، د نانوايى ترڅنګ د ويډيو گيم كلپ دى چې هلكان هره ورځ په كې ويډيو گيم كوي. يو ناڅاپي مې خالد له نورو دوو تنو سره په ويډيو گيم كې وليد، ډير خپه شوم، له ځانه سره مې وويل خالد او دا ځاى؟؟؟

له دې امله چې خالد ډير را باندې گران و نو ځان مې كنټرول نه كړ او په قهر سره مې پرې غږ وكړ: دا ستا ځاى نه دى! زه خجالت باسم

ketabton.com - The Digital Library

چې ستا دوست یم او نور په لسګونو نصیحتونه خو د خالد غوږونه لکه چې کاڼه شوي وي، زما خبرو ته يې هیڅ پام ونه کړ او له دې امله چې هغه د خپلو ویډیو ګیم بازه ملګرو ترمنځ وشرمید، زه يې په خرابو او ناوړو خبرو خپه کړم او د خپلو دوستانو په لمسون يې په مخ په څپېړه ووهلم.

کله چې خبره دې ځای ته را ورسیده، نوید سوړ اسویلی وکیښ او وې ویل: د نیکۍ سزا بدي ده.

له یوې لنډې چوپتیا وروسته نوید د خپلو خبرو په دوام وویل: ما خالد پیژاند، ستاسو

ketabton.com - The Digital Library

په شان د هغه له اخلاقو، روزنې او لیاقت څخه خبر وم نو کله مې چې ډوډۍ کور ته ورسوله له مور څخه مې اجازه واخیستله او د خالد دوي کور ته ورغلم. نږدې یو ساعت ورته ماتل شوم چې له هغه سره له نږدې خبر وکړم، خپلو کړو وړو ته یې متوجه کړم او بیرته سره دوستان شو. خو کله چې خالد کور ته راغی او زه یې ولیدلم باور وکړه...

د نوید له سترګو څخه اوښکې روانې شوې او ستونی یې ډک شو. ټولو دوستانو سرونه کښته اچولي وو او خپه وو.

نوید خپلې اوښکې پاکې کړې او غاړه یې

ketabton.com - The Digital Library

تازه کړه او بیا یې په خبرو پیل وکړ:
زه هغه شپه د خپلې خولې په ترخه مزه پوه شوم. وپوهیدم چې د یو دوست له لاسه ورکول څومره سخته خبره ده.
سبا مې له خپلې مور سره مشوره وکړه او بیا د خالد دوي کور ته ورغلم چې د هغه له مور او پلار سره چې زه هم د خالد په شان پرې ګران یم خبرې وکړم او هغوي د خالد په دې کار خبر کړم، کله چې د هغوي کور ته ور ننوتم، د ورځې په وخت کې په کور کې د خالد له موجودیت څخه حیران شوم.
زما په فکر خالد له شرمه مکتب ته نه و

ketabton.com - The Digital Library

تللي او په کور کې ناست و.

نوید لا خپلې خبرې نه وې خلاصې کړې چې خالد په چټکۍ سره ټولګي ته را ننوت او له سلام او پوښتنې پر ته د صنف په یوه وروستۍ چوکۍ کیناست.

ورځې تیریدې او موږ داسې پوه شول چې خالد یې په کور کې هم ملامت کړی دی او خالد د نوید په وړاندې لاپسې عقده مند شوی دي. او له زړه نه ور څخه خپه دی او هیڅ کله یې نه غوښتل چې بیا له نوید سره دوستي وکړي.

د څلورم ب ټولګي نور هغه پخوانی ټولګي نه و، هر یو په یو کونج کې کیناست او

ketabton.com - The Digital Library

خپل لوستونه مو لوستل.

خالد او نوید چندان له لوست سره مینه نه درلودله. کورنۍ وظیفې یې هم نه کولې. مور ټول د هغوی په دې حالت خواشیني وو، خو مسعود له نورو څخه زیات خپه و.

ځکه هم خالد او هم نوید د هغه ښه دوستان وو. زموږ ټولګي ملګرو د مسعود په مرسته څو ځلې هڅه کړې وه چې نوید او خالد سره پخلا کړو خو امکان یې پیدا نه کړ، ځکه خالد نا اهله ملګرو له کاره ایستلي و. هغوي نوید د خالد دښمن باله او خالد یې هڅولو چې له نوید سره پخلا نه شي. د دې

ketabton.com - The Digital Library

خبــرې علت هم څرګند و او هغه دا چې د
هغوي ویډیو ګیم خوښ و خو له لوست او
ښوونځي ســره یې دښمني وه. خو خالد
په دې ورځو کې ویډیو ګیم ته هم نه تللو.
کرار کرار د ټولګي زده کوونکي هم په
دوو ډلو وویشـــــل شـــــول څوك د نوید
پلویان وو او څوك هـم د خالــد. دوي ټول
هغه دوســـتان وو چې خپل ټول ځواك او
انرژي یې په صمیمیت، دوســـتۍ او د
ټولـګي په ترتیـب او تنظیـم لګولـه خـو
اوس زموږ ټولګي خپل شـهرت له لاسـه
ورکړی دی.
مسعود تل پریشانه و او زیات تلاش یې

ketabton.com - The Digital Library

کاوه چې دغه حالت پای ته ورسوي خو نه بـــريالی کيده. د پښتو او دري ښوونکي هم په دې موضوع بـاندې څه نا څه خبـــر شوي وو، ځکه د ټولګي حالت په ښکاره دا موضوع بـــيانوله. هغوي ثو ځلې له زده کوونکـــو څخـــه پوښتـــې وو چې په موضوع پوه شي، خو موږ له شـرمه خپلو ښوونکو ته څه نه ويل. موږ ټول پوهيدلو چې جنګ او دعوا ښه کار نه دی او زموږ خواره ښوونکي خپه کيدل.

شپې ورځې تيريدې، داسې وخت را ورسيد چې مسـعود هم غير حـــاضري پيل کړه، تر دې چې غير حـــاضري يې لســـو ورځو ته

ketabton.com - The Digital Library

ورسيدله. هلكان پريشانه وو ځكه
آزمويني را رسيدلي وي. موږ ټولو
لوستونه ويل او كوښښ مو كولو خو د
مسعود درك نه و، تر هغه چې مسعود
يو ورځ راغى كله چې هغه له لس
ورځنۍ غير حاضرۍ وروسته ټولګي ته
ننووت، د دري ښوونكى د حاضرۍ په
اخستلو بوخت و، د مسعود حالت
داسې ښكاريده چې تا به ويل كوم مهم
پيغام يې راوړى دى. موږ ټولو د
پوښتنې حالت غوره كړى و. خو د
ښوونكي صاحب موجوديت د پوښتنې
اجازه نه راكوله. مسعود د دري له
ښوونكي سره د روغ بړ په وخت كې د

ketabton.com - The Digital Library

ښوونکي صاحب په غوږ کې څه وویل چې موږ وانه وریدل.

کله چې مسعود په څوکۍ کیناست، ښوونکي صاحب وویل: نن لوست نه وایو، مسعود جان موږ او تاسې ته د خپلې غیر حاضرۍ کیسه کوي.

دا د جنګ او سولې د ښارونو یوه ریښتینې کیسه ده چې مسعود تیرې لس ورځې هلته تیرې کړې وي او د هغو ښارونو حالات یې لیدلي دي.

اوس زه د مسعود په څوکۍ کښینم او له تاسو سره یو ځای د هغو کیسې ته غوږ نیسم.

ketabton.com - The Digital Library



ketabton.com - The Digital Library

مســـــعود د صنف مخې ته ودرید او د خپلې کیسې له پیل مخکې یې یو شمیر عکسونه له خپل بکس څخه را وایستل او د ښوونکي صاحـــــب پر میز یې کېښودل. موږ ټول د کیســـې اورېدو ته منتظر وو.

مسعود غاړه تازه کړه او خپله کیســه یې په یو غمجن حالت او غږ سره داسې پیل کړه.

ماما کره چې د جنګ په ښار کې دی ولاړو. کله چې ښار ته ورسیدو... مسعود نه شو کولای خپلو خبـــرو ته دوام ورکړي، ځکه ستونی یې ډک ډک کیده او اوښکې یې په سترګو کې راټولې شوې وې. موږ هم به یې

ketabton.com - The Digital Library

صبرې سره د هغه د کیسې د اورېدو په انتظار وو چې د جنګ په ښار کې څه پېښ شوي دي. بالاخره مسعود په ژړه غوني غږ سره خپلې کیسې ته دوام ورکړ.

مخکې له دې چې له خپل ښار څخه روان شو موټر نه پیدا کیده. موټروانان بیریدل او ویل یې: موږ ښار ته نه شو تللای ځکه هلته جنګ دی. له زیات انتظار او د موږ له زاریو وروسته یو موټر چلونکي ومنله چې موږ د جنګ ښار ته ورسوي. د موټروان له خیرې څخه ښکاریده چې مهربانه سړی دی. ځکه په هغو شرایطو کې هیڅوک نه حاضریدل چې

ketabton.com - The Digital Library

ځان له خطر سره مخامخ کړي. موږ اړ وو
چې ولاړ شـو. ځکه ماما مې احــوال را
استولي وو چې ورتګ يې حتمي کاوه.
لنډه دا چې موټر روان شــو او په دوړو او
خاورو کې مخکې ته سړك نه ښکاريده
چې چيرته دی. څو تنه نور هم چې لـه موږ
سره په موټر کې ملګري شـول پخپلو کې
يې سره ويل: ښه وشـو چې د دغې مور او
زوي له بر کته مو موټر پيدا کړ. خدای دې
وکړي چې په خير ورســـيږو او موټر په
مرميو او يا توغندي ونـه لګيـږي. زه او
مور مې هم ډاريدلو ځکه د ماين خطر هم
و.
له يو ساعت وروسته مو په لاره کې د يو

ketabton.com - The Digital Library



ketabton.com - The Digital Library

ښوونځي ودانې وليدله چې سوې او
ورانه شوې وه. څوکۍ او د ښوونکي ميز
او نور له ياده تللي خوبونه وو چې ګڼې
هيڅ نه وو.
ټولګي او د مکتب د ادارې د يوالونه
سوري سوري وو. د کلي يوه سپين ږيري
کيسه کوله چې څه موده مخکې په
همدې ښوونځي کې يو ښوونکی او درې
تنه زده کوونکي د توغندي د لګيدو له
امله شهيدان شول. هغه دي هغه بيرغونه
وينې! هغه يې قبرونه دي. کله چې له
ښوونځي څخه تير شو لاره ډيره خرابه وه
او موټر ورو ورو روان و. ما د سړک ښي او
کيڼ خواته کتل بدبختيانې مې ليدلې،

ketabton.com - The Digital Library

غمونه مې ليدل او د جګرې محصول مې
ليد. له نيم ساعت وروسته يو روغتون ته
ورسيدو مور مې تربې شوې وه له موټروان
څخه يې وغوښتل چې ودريږي. کاشکې
هيڅکله نه واى دريدلي، روغتون ته
ورننوتلو. نه پوهيږم څنګه مو د هغو ټولو
شيانو د ليدلو زغم کاوه. د خلکو بيروبار
د کورنيو نارې سورې، د ناروغانو زګير
وي. درې تنه ډاکتران او يو نرس د
ژغورونکو ملايکو په شان هر خوا
زغليدل او ټپيان يې د عملياتو خونو ته
وړل. ټپيان اکثره ماشومان وو. يو مور
ډاکټر ته زارى کوله چې ډاکټر صاحب،

ماشوم مې د مرګ په حال کې دی. ډاکټر ورسره په نرمۍ خبرې کولې. د دې صحنې په لیدلو سره مې مور او به هم ونه ښنیلي.

یو ډاکټر مې مور ته ویل نن سهار په هغه نږدې کلي کې درې ځلور توغندي ولګیدل چې په ترخ کې یې په لسګونو تنه مړه او ګڼ شمیر ټپیان شول. سترګې مې توري توري کیدې د مور لاس مې ونیو او په زیاتې خواشینۍ سره موټر ته ورو ختلو.

د موټر سورلۍ موږ ته انتظار وې. هغوی ټول خواشیني او خپه ښکاریدل. یوه مرګونې چوپتیا په موټر کې خپره وه. موټر روان و او

ketabton.com - The Digital Library

ketabton.com - The Digital Library

موږ هم په چرتونو کې ډوب وو.

د ماما تر کوره مو یوه خبره هم سره ونه کړه. د ماما د کور خواته مو له موټروان څخه وغوښتل چې موږ پلي کړي. کله چې د ماما کره ورسېدو فکر مې وکړ چې له مړو سره مخامخ یو.

ماما د ماما میرمنې او بچیانو یې یوازې پوستکي پر مخ لرل. لوږه غم او وحشت او په هره شیبه کې د توغندیو غږونو خلک له ګڼ شمیر مصیبتونو سره مخامخ کړي وو.

ماما مې راته ویل په ښار کې نه درس شته نه تعلیم. خلک ټول وږي دي جنګ د

ketabton.com - The Digital Library

خلکو هر څه ورڅخه اخستي دي. کورنه لرو، ډوډۍ نه لرو، لوست او ښوونه نه لرو یوازې او یوازې شهیدان لرو، هره ورځ یوه مور بوره کیږي او یو زوی بې پلاره کیږي او بې موره کیږي او زړې ښځې په دعا دي چې وطن ته سوله راولي.

ښوونکي او د ټولګي ملګرو په خیر سره د مسعود خبرې اوریدلې. د ټولګي فضا خاموشه وه ځینو ورو ورو ژړل.

مسعود عکسونه د میز له سره راواخستل او د ټولګي ملګرو ته یې ښودل چې د جنګ د ښار د خلکو د تراخه ژوندانه ښکارندوي وو.

ketabton.com - The Digital Library

د مسـعود خبـرو له نورو څخه زيات پر
خالد اغيزه وکړه او هغه يې حيران کړی
و. نويد ژړيده. ښوونکي صاحب هم په
فکرونو کې ډوب و.
مسـعود عکسـونه بـيرته ټول کړل او
خبـرو ته يې داسـې دوام ورکړ. دوه
ورځې مو په زيات مشکل سره د جنګ
په ښار کې تيرې کړې او دعا مو کوله
چې ژر او په خير سـره له دې ښار څخه
ووځو.
د ماما مشـکل مو د مور په موجوديت
کې حــل شـــو. د خلکو د غمونو او
کړاوونو د اوريدو توان مو نه درلود.

ketabton.com - The Digital Library



ketabton.com - The Digital Library

دريمه ورځ شوه مور مې سهار وختي د
لمانځه له ادا کولو وروسته ورو ورو له
ماما سره خبرې کولې. زه هم يو څه له
خوبه اوېښ وم، مور مې جګه شوه او
ويې ويل ورور اجازه راکړه چې د
مسعود د ترور کره ولاړه شم ستا له خور
سره هم يو څه کار لرم او ډيره موده شوې
چې هغه مې نه ده ليدلې او دا چې هلته
جنګ نه شته غوارم درې څلور ورځې
هلته پاتې شم.
کله مې چې د سولې او د ترور کور ته د تګ
خبره واوريدله او چټه له ځايه راپاځيدم او مور
ته مې وويل له ماما څخه مې اجازه واخله چې
زر ولاړ شو د سولې ښار ته. مور مې په سر

ketabton.com - The Digital Library



ketabton.com - The Digital Library

لاس را تیر کړ ویې ویل تلوار مه کوه څه
ولاړ شه کالي دې راټول کړه.
د ســولې د ښار د لیدلو له پاره مې زیاته
مینه پیدا کړې وه ځکه د دې ښار په بــاب
مې د مور له خولې زیاتې کیسې اوریدلې
وې. له ماما سره مو په مخه ښه وکړه او په
یو زاړه موټر کې د ســولې د ښار په لور
روان شــولو. کله چې دې ښار ته ور نیږدې
شـــو نه خاورې نه دوړې او نه د توغندیو
ډزې، زموږ زوړ موټر د الوتکې په شـــان
روان و ځکه سړکونه ټول قــیر وو. میندې
له خپلو بچیانو ســـــره تلې راتلې د
پلورنکو غږونه هرې خوا جګ وو. موټران

ketabton.com - The Digital Library



ketabton.com - The Digital Library

هرې خوا ته په حــرکت کې و. پولیس او
ترافیکي اشارې مې ولیدې. په لاره کې
مې یو ښوونځي ولیـد چې نـوی رنـګ
شــوی و زیات زده کوونکي د ښوونځي
و د نجونو تور کمیسونه او سپین پړوني
ډیر ښکلي ښکاریدل او داســــــې
معلومیدلــه چې د دې ښار خلــك لــه
ښوونې او روزنې سره زیاته مینه لري.
ښوونکي هم د زده کوونکو په منځ کې
ښکاریـدل. مـوټر په ښار کـې روان و او
خلك هم په کار و بــــار اخته وو. ما ځان
ورك کړی و غوښتل مې له خوشحــالۍ
نه چیغې ووهم.

ketabton.com - The Digital Library

يو حل مې سترګې په يو روغتون ولګېدلې چې ډېره ښکلې ودانۍ يې درلوده په انګړ کې يې ښکلي ګلان ښکاريدل. د ترور کور راڅخه هير شوی و. غوښتل مې نور هم په دې ښار کې وګرځم چې موټر ودريد او مور مې راته وويل زويه راورسيدو.

کله چې د ترور کره ورسيدو هغوي ټول ډير خوشحاله او تازه ښکاريدل. ډير خوشحاله شوم د ترور زامنو ته مې وويل چې بهر ولاړ شو او په پارك کې لوبې وکړو. په پارك کې د سپورټ له پاره هر ډول وسايل وو لنډه دا چې په دغه ښار کې هره خوا خوښي او خوشحالي

ketabton.com - The Digital Library

وه. زموږ ټولو ځیرې یو ځل بیا خلاصې
او خوشحالې شوې وې.
مسعود د میز له سره بیا خپل داني
عکسونه را واخیستل او موږ ته یې
راوښودل دا عکسونه د سولې د
ښاروو، دومره ښکلي ښار موږ په خوب
کې هم نه ولیدلی او پوه شو چې د جنګ
او د سولې د ښارونو ترمنځ څومره
توپیر دي.
مسعود عکسونه ټول کړل او د خالد او نوید
خواته یې وکتل او پخپل ځای کیناست.
بیا د درې د ښوونکې صاحب خپلې
خبرې داسې پیل کړې.

ketabton.com - The Digital Library

خوړو بچیانو! د مسعود جان کیسه مو
واورېده اوس زه له تاسې څخه پوښتنم
چې کوم ښار ښه دی د جنګ او که د
سولې؟ ټولو په یوه غږ د سولې! د سولې!
په دې وخت کې د دري ښوونکي
صاحب لکه چې د ټولګي له ټولو حال
احوال څخه خبروي په مهربانۍ سره د
خالد خواته ورتاو شو او له هغه څخه یې
وپوښتل: خالد جانه ستا نظر څه دی؟
خالد چې د کیسې له پیل څخه ژړغونی
غوندې و چیغه کړه د ښوونکي صاحب
خواته یې ورمنډه کړه او د هغه په غېږ
کې یې ځان واچاوه.

ketabton.com - The Digital Library

ښوونکي صاحب په مهربانۍ ورته وویل:
خالد جانه بچیه!
له نوید څخه بـښنه وغواړه زه له هر څه
نه خبـریم له مسـعود جان څخه هم مننه
وکړه.
نوید او مسـعود دواړه ښوونکي صاحب
خواتـه ورغلل او خالـد یې په غیږ کې
ونیو. نور هم ورغلل او خالد یې په غیږ
کې ونیو.
د درې ښوونکي صاحب ډیر خوشحاله و
او ډیر ژر د څلورم ټولګي بیا د سولې
او دوستۍ ټولګي شو.
په دې وخت کې ښوونکي صاحب د تختې
خواته روان شو او ویې ویل د سولې اتل

ketabton.com - The Digital Library

مســـــعود دی چې د دوو مرورو ملګرو
ترمنځ يې د پخلاينې زمينه برابره کړله له
هغه وروسته مسعود د ســولې د کوچني
اتل په نامه يادېده.

اوس نو زموږ ټولګی سربـــيره پر دې چې
ښه نوم او نښان پيدا کړ د ســولې کوچنی
اتل هم لري.

ketabton.com - The Digital Library

Preface

Dear readers,
It is an obvious fact that peace is the most urgent requirement of our society and all Afghan people, old, young and children are impatiently waiting for it. But the point at the issue is that we should not wait for the others to bring peace for us. We ourselves should try hard to ensure peace in our society. We should start peace initiatives from the grassroots levels i.e. schools, families, villages and work collectives and expand it to the nation level.

Sanayee Development Organization (SDO) has published an illustrated children story in Dari language entitled "Small Champion of Peace" written by Ahmad Farid Arfi. This book gives a strong motivation for peace initiative at the grassroots level.

It is worth mentioning that the story of this book not only gives a moral lesson from disastrous consequences of war but gives a strong motivation for peace as well. This book will be usefull for the children, teenagers and other group of the society.

By publishing of this book I hope that we may take a step forward toward dissemination of culture of peace in our society.

With Regards,
Raz Muhammad Dalili

ketabton.com - The Digital Library

5

Da Sule Kochnay Atal

(Small Champion Peace)

Published by	:	Sanayee Development Organization (SDO)
Editor - in - Chief	:	Raz Muhammad Dalili
Author	:	Ahmad Farid Arifi
Translated by	:	Ghulam Hazrat "Rahimi"
Edited by	:	Ass. Prof. Sarwar Mamound
Artist :	:	Sultan Hamid Fanoos
Composed By	:	Saifullah Zamani

1st Edition : 1000 copies, Financed by (SDO), May 2007
2nd: Enditon : 1000 copies, Financed by (SDO), Nov 2007
2nd: Enditon : 1000 copies, Financed by (SDO), Feb 2008

Publishing date	:	Apr 2010
Number of copies	:	2000 copies
Financed by	:	Sanayee Development Organization (SDO)

Kabul address	:	Sanayee Development Organization (SDO) Qala-e-fatiullah 9th street, Near Shahoon Electricity Junction
Kabul telephone	:	0093-(20) 2201693
Post Box	:	181 Kabul Afghanistan
Email	:	sdfkabul@ceretechs.com
Websites	;	wwwsanayee.org Www.nawidefarda.com
Peshawar Address	:	Kabul English Language Center, Behind Orakzai Plaza and total CNG, university Road Shaheen Town, Peshawar Pakistan
Telephone	:	0092-91-5842155 - 91582165
Fax	:	+92+-1-5845139

All Rights Reserved

Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

www.ketabton.com

Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English